بسم الله الرحمن الرحیم

# اول فصل

## عمومي موضوعات

اول مبحث:

په دې مبحث کې په لاندې موضوعاتو باندې بحث کوو.

د ملګرو ملتونو د سازمان پیدایښت، خصوصیات، اهداف او اصول، غړیتوب، د غړیتوب ځنډول او د غړیتوب ځخه وتل، د عضویت د حاصلولو طرزالعمل.

### اول جز: د ملګرو ملتونو د سازمان پیدایښت:

کله چې په ۱۹۳۹م کال کې المان په چکسلواکیا حمله وکړه او د فرانسې او انګلستان لخوا ورته التې ماتم ورکړل شو; مګر المانیانو کومه اعتنا ونکړه او خپل پیشرفت ته یې دوام ورکړ نو فرانسه او انګلستان هم عملاً جنګ ته داخل شو او پدې ترتیب د نړۍ زیات شمیر هیوادونه د یوې او بلې خوا سره د کمک دپاره ودریدل او عملاً [illegible] جامعه ملل سازمان ناکامي په ثبوت ورسیده او د همدې وخت یعنی ۱۹۳۹ م کال څخه تر ۱۹٤٥ م کال پورې نوموړی جنګ دوام درلوده د دې جنګ په دوام کښې بیا د نړیوالو سره دا فکر پیدا شو چې باید په نړیواله سطحه داسې یو سازمان موجود وي چه په آینده کښې ددې جنګونو مخه ونیسي. د ۱۹٤۲ م کال د جنوري په لمړۍ نیټه د

Hafizullah kalim
Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

متحدينو لخوا يا هغه هيوادونه چه د المان په مقابل کښې ولاړ ؤ او شمير يې ۲٦ هيوادونو ته رسېدل، يوه اعلاميه خپره شوه چې پدې اعلاميه کښې د لمړئ ځل لپاره د ملگرو ملتونو د سازمان نوم ياد شوی ؤ چه داسې سازمان بايد ايجاد شي چه په اينده کښې د جنگونو مخه ونيسي او د دې نوم بايد ملگرې ملتونه وي پدې اعلاميه کښې علاوه ددې څخه د محوري ملکونو په مقابل کښې د نهايي کاميابی پورې د جنگ په دوام تينگار شوي ؤ، ددې څخه وروسته په ۱۹٤۳ م کال کښې نورو درې هيوادونو چه د متحدينو د قواوو هيوادونه يعنې امريکا، انگلستان او شوروي اتحاد څخه عبارت ؤ. د نومورو هيوادونو خارجه وزيرانو په ۱۹٤۳ م کال د اکتوبر په مياشت کښې په مسکو کښې يو کانفرانس داير کړل او پدې کانفرانس کې د ملگروملتونو د سازمان په جوړيدو تاکيد وکړ بيا د همدې ۱۹٤۳ م کال د دسمبر په مياشت کښې د پورته ذکر شوو ملکونو رئيسانو د خپلو ملکونو خارجه وزيرانو طرحه تايد کړه چه د رئيسانو غونډې په تهران کښې صورت نيولې ؤ او بيا ۱۹٤٤ م کال کښې د خلورو قوي هيوادونو رئيسانو چه درې يې پورته ذکر شوي او يو ورسره د چين هيواد هم ورزيات شوه. د اگست د مياشتې څخه تر اکتوبر تر مياشتې پورې د امريکا د متحده ايالاتو د واشنگتن د ښار په يو عمارت کښې چې(Dumbarton Oaks) په نوم يادېده يوه طولاني غونډه جوړه کړه چه پدې غونډه کښې د امريکا، انگلستان،

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرانسي او شوروي اتحاد نمايندګانو د ملګروملتو د سازمان د منشور د يوې مسودې په حيث تيار کړ همدارنګه په ۱۹٤٥م کال د فبروري په مياشت کښې د امريکا، شوروي او انګلستان د هيوادونو رئيسانو د شوروي اتحاد د کريما ايالات د يلتا په ښار کښې يو کانفرانس داير کړ چې پدې کانفرانس کې نوموړو درې قوي دولتونو دا پريکړه وکړه چې بايد په ۱۹٤٥ م کال د اپريل د مياشتې په ۲٥ نيټه د امريکا د سانفرانسيسکو په ښار کې يو کانفرانس داير شي او پدې کانفرانس کې بايد د ملګروملتونو منشور تصويب او امضا شي د پورته پريکړی په اساس په ۱۹٤٥م کال کښې د امريکا د سانفرانسيسکو په ښار کښې کانفرانس جوړ شو چې د اپريل د ۲٥ څخه يې د جون د ۲٦ نيټې پورې دوام درلوده او همدا د دوهم نړيوال جنګ د پاې ورځې هم وی چه د جون په ۲٦ نيټه د ملګروملتونو منشور د پنځوس هيوادونو د نمايندګانو لخوا د سانفرانسيسکو په ښار کښې امضاء شو او بيا د همدې ۱۹٤٥م کال د اکتوبر په ۲٤ نيټه نوموړې منشور عملاً تصويب شو چه لدې امله د اکتوبر ۲٤ نيټه په ټوله نړئ کښې د ملګروملتونو د ورځې په نوم يادېږي . زمونږ هيواد کښې دغه ورځ د عقرب د دوهمې نيټې سره سمون خوري چه پدې ترتيب د ملګروملتونو سازمان په پورته تاريخ رسماً تاسيس او منځته راغې . د ملګروملتونو منشور ۱۹ فصله لري او ۱۱۱ مادې لري. نن ورځ د ملګروملتونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سازمان په دنيا کښې عملاً موجود دې او د دنيا په هره برخه کښې د مختلفو مشکلاتو د حل لپاره رسيدگي کوي.

## دوهم جز: د ملګرو ملتونو د سازمان خصوصيات:

هر نهاد او سازمان د ځان لپاره څه ځانګړي خصوصيات او مشخصات لري چې د ملګروملتونو سازمان هم خپل خصوصيات او مشخصات لري چه په لاندې ډول يې توضح کوو.

اول- د ملګروملتونو د منشور څخه معلوميږي چه يوازې دولتونه کولای شي ددې سازمان غړيتوب ترلاسه کړي ځکه چې نوموړی سازمان يو بين الدول سازمان دی نو اعضاء يې بايد دولتونه وي ، نه سازمانونه، نه افراد او نور حکمي شخصيتونه .

دوهم – د ملګروملتونو د منشور د دوهمې مادې د اولې فقرې څخه د دې سازمان يو بل خصوصيت هم معلوميږي او هغه دا چه ملګروملتونه د ټولو ملکونو ملي حاکميت ته احترام لري او هر غړې هيواد په مساوي ډول په ملګروملتونو کښې د يوې رائی حق لري. ددې اظهاراتو څخه دوه نتيجې لاسته راځي:

1. دا چې ملګروملتونه کوم دولت ندې; بلکه يو نړيوال سازمان دي.
2. ملګروملتونه کوم مافوق الدول سازمان هم ندې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دريم – د ملګروملتونو د سازمان دريم خصوصيت دا دی کوم چې د دوهمې مادې، اوومې فقرې څخه معلوميږي چې ملګروملتونه حق نلري چه د دولتونو په داخلي چارو کې مداخله وکړي او يوازی د هغه موضوع په حل کې مداخله کوي، کوم چې بين المللي جنبه ولري.

## دريم جز: د ملګروملتونو د سازمان اهداف او اصول:

د ملګروملتونو سازمان هم د جامعه ملل غوندې ځانګړې اهداف او اصول لري چې مهمترين يې په لاندې ډول دي.

الف–اهداف:

1. د بين المللي امنيت دقيام او د دغه مقصد د حصول په غرض د ټولو اجتماعي او مؤثرو اقداماتو اختيارول تر څو چې امنيت ته د لاحقه خطرونو او جابرانه يرغلونو او نورو امن ماتوونکو افعالو مخه ونيول شي او د امن په دايره کښې د عدالت په اساس او د بين المللي قانون سره سم د هغو بين المللي شخړو او صورت حال په باب چې امن او سلاميتا خرابوي مفاهمه يا تصفيه وکړل شي.

2. د مساوي حقوقو او د ملتونو د خپلواکۍ د اصولي حق د احترام په اساس د قومونو ترمنځ دوستانه تعلقات ټينګول او د جهاني امنيت د

(c) ketabton.com: The Digital Library

استحکام او ساتلو لپاره د نورو مناسبو تجویزونو غوره کول.

3. د بین المللي اقتصادي، اجتماعي، ثقافتي او هغو مسایلو د فیصله کولو په غرض چه د بشر دوستی له نوعې څخه وي، بین المللي مرسته حاصلول او د نسل، جنس او مذهب له توپیر پرته د انساني حقوقو احترام او دغه ډول په ټولو انسانانو کښې د حریت او استقلال جزبه تقویه کول.

4. د دغه مشترکه مقصد د لاسته راوستلو په غرض د ملتونو او دولتونو په اعمالو کښې د ربط او هماهنگی پیدا کوونکي مرکز حیثیت اختیارول.

ب- اصول:

1. د دغه مؤسسې اساسي تګلاره پدې ډول ده چه د هغې ټول غړي مقتدر او مساوي درجې خاوندان دي.

2. د دې لپاره چې د عضویت له حقوقو او ګټو څخه ټول غړي په مساوي توګه ګټه واخلي ټول ارکان به په ښه نیت سره هغه وظایف سر ته رسوي چه تر دغه منشور لاندې په هغوي باندې ایښودل کیږي.؛

3. ټول غړي به خپلې بین المللي شخړې د امنیت په دایره کښې داسې تصفیه کوي چه بین

(c) ketabton.com: The Digital Library

المللي امنيت ته هيڅ ډول خطر پېښېدونکې نه وي.

4. ټول غړي به پخپلو بين المللي تعلوقاتو کښې د بل مملکت د مليت يا سياسي آزادۍ په خلاف د تهديدولو او طاقت له استعمال څخه ډډه کوي او له هر هغه عمل څخه به ځانونه ژغوري چې د ملګروملتونو د اغراضو او مقاصدو منافي او معارض وي.

5. د ملګروملتونو ټول غړي به په هغوعملياتوکښې چې تردغه منشورلاندې اختيارشوي وي له دغه موسسې سره هرډول مرسته کوي اوله داسې هيوادوسره به له مرستې څخه ځان ژغوري چې دهغه په خلاف ملګري ملتونه عملي اقدامات کو ي اوبنديزونه وربانديږ لګوي .

6. دغه موسسه ددې امر يقين حاصلول غواړي چې دبين المللي امنيت دساتني لپاره دي هغه مملکتونه هم حتي المقدر ددغواصول سره سم کاروکړي چې په دغه مؤسسه کښې غړيتوب نلري.

7. ددې منشور د هيڅ جز مقصد داسي ندي چه د ملګروملتونو موسسو ته دي د کوم مملکت په هغو کورنيو چارو کې د بڅايه مداخلي واک ورکړل شي چه د هغه مملکت خاص کورني معامله وي او نه دغه منشور خپل غړي پدي باندي مجبوررولاي شوي چه دغه ډول چاري دي ددغه منشور

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اساس د تصفیه لپاره وړاندي کړي خو پدي اصل سره په هیڅ ډول تر اووم باب لاندي د عملي اقداماتو واک نه متاثره کیږي .

## ځلورم جز: عضویت:

د ملګروملتونو لمړني او اصلي غړي به هغه هیوادونه وي چه د بین المللي موسسي د سن فرانسسکو په منعقده کنفرانس کي یي برخه اخیستي ده او یا یي پخوا تر هغه د متحدینو پر هغه اعلان باندي لاسلیک کړي وي چه د ۱۹٤۲ کال د جنوري په لمړي نیټه خپور شوي ؤ او هغه ممالک چه برسیره ددي منشور په لاسلیک کولو یي تر ۱۱۰ مادي لاندي د هغه توثیق کړي دي .

1. د ملګرو ملتونو د عضویت دروازه هغه ټولو امن خوښونکو هیوادونو ته خلاصه ده چه پدغه منشور کي ذکر شوي مسولیتونه و مني او د دغي موسسي په عقیده د دغو وظایفو د اجرا کولو قابل او تیار وي .
2. د ملګرو ملتونو په موسسه کي به د دغه ډول کوم مملک کډون به د امنیه مجلس په سپارښت او دعمومي اسمبلي د تصویب په اساس وي .
3. عمومي اسمبله د ملګروملتونو هر غړی چه د هغه په خلاف امنیه مجلس عملي اقدامات کړي او بندیزونه وربانديِ لګولي وي، د امنیه مجلس

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غوښتنې په اثر د عضویت د حقوقو او اختیاراتو له استعمالولو څخه منع کولې شي او امنیه مجلس واک لري چه د دغه حقوقو او اختیاراتو استعمالول بیا هم د دوهم ځل لپاره پرځای کړي.

عمومي اسمبله کولې کولې شي چې د ملګروملتونو داسې غړې چه پرله پسې یې د دغه منشور له مندرجه اصولو څخه تیری کړی وی د امنیت د مجلس د غوښتنې په اثر د دغه مؤسسې څخه وباسي.

## پنځم جز: د ملګروملتونو په سازمان کې د عضویت د لاسته راوړلو طرز العمل:

د عضویت غوښتونکې هیواد باید د ټولو لمړی غوښتن لیک د ملګروملتونو سرمنشي ته ولیکي نوموړی غوښتن لیک د سرمنشي پواسطه وروسته د امنیت شوري ته راجع کیږي تر څو غور پرې وکړي، امنیت شورای دا غوښتن لیک یو کیسیون ته راجح کوي چه د نوو اعضاؤ د قبول کمیسیون ورته وائي تر څو هغه هم پرې غور وکړي. نوموړې کمیسیون بیا ددې هیواد په هکله معلومات راټولوي او ورسره خپل نظریات هم لیکي او دوباره ئې امنیت شورای ته لیږي. د امنیت شورای د نوموړی کمیسیون نظریات او معلومات په خپله یوه غونډه کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر غور لاندي نيسي او د دې هيواد د غړيتوب موضوع څيړي نو که د څيړنې څخه وروسته د امنيت شوراى د پنځلسو (۱۵) غړو څخه نه (۹) غړو موافقه رائي ورکړه، نوموړى هيواد غړيتوب ترلاسه كوي خو پدې شرط چه نه (۹) غړو کښې بايد پنځه (۵) دايمي غړې بايد موافق وي مگر که موافق رائى د نه (۹) څخه کمې وي او يا هم د اصلي او دايمي اعضاؤ څخه كوم يو موافقه رائيه ونلري نو نوموړى هيواد عضويت لاسته نشي راوړې حتى که د امنيت شوراى د پنځلسو (۱۵) غړو څخه څوارلس (۱٤) يې موافقه رائي ورکړې او يوازې يو دايمي غړې مخالفه رائيه ورکړي بيا هم عضويت رد كيږي چې ديته د ويتو د حق څخه استفاده كول وايي ، خو که چيرې د پنځو (۵) دايمي غړو سره په نه (۹) موافقو رائو دا هيواد تائيد شو نو دا موضوع بيا د ملگروملتونو عمومي اسملې ته ليږل كيږي چه د امنيت شوراى نظر ورسره مل وي بيا هلته په عمومي اسملې کې پدې موضوع غور كيږي او د بحث وروسته وربانديې رائه گيري كيږي نو که د حاضرو غړو هيوادونو څخه دو ثلثو موافقو رايو په اخيستلو بريالې شو نو نوموړې هيواد په ملگروملتونو کښې عضويت ترلاسه كولاى شي.

## شپږم جز: د عضويت ځنډول:

په بعضى مواردو کښې د ملگروملتونو د يو غړي هيواد غړيتوب په تعليق کښې اچول كيږي چه اکثراً دا په هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت کښې وي چه د امنیت شوارئ د کوم متجاوز یا تیریکوونکی هیواد په ضد کوم امنیتي او قهري تدبیر نیسي نو پدې وخت کښې د نوموړي هیواد عضویت ځنډوي خو ددی شورای دافیصله قاطع نه وي بلکه مجبوره ده چې عمومي اسملې ته دا سفارش وکړي تر څو د دغه هیواد غړیتوب وځنډوي او عمومي اسملې دا موضوع څېړي که پدې هکله دوه ثلثه موافقه رائیه موجود وي نو ددې هیواد غړیتوب په تعلیق کې اچول کیږي.

د تعلیق معنی دا ده چه غړې هیواد نشي کولی چه د هغه امتیازاتو څخه ګټه واخلي چه پخوایې درلودل لکه د رائي ورکول او په جلساتو کې شرکت کول. خو که د امنیت شورای وغواړي چه د نوموړې هیواد غړیتوب دوباره برحال کړي نو بیا پدې موضوع رائیه ګیري کیږي او که بیا هم دو ثلثه مثبتې رایې په دې هکله موجودې وي نو هیواد دوباره خپل غړیتوب برحالوي او خپل غړیتوب لاسته راوړي.

اووم جز – د عضویت د لاسه ورکول:

کله کله داسې هم واقع کیداې شي چې د ملګروملتونو په سازمان کې کوم غړی هیواد خپل غړیتوب د لاسه ورکړي چه دا موضوع په دوه ډوله صورت نیسي .

۱- اختیاري اخراج.

۲- اجباري اخراج.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱- اختیاري اخراج:** دا پدې معنی چې عضوه هیواد پخپله خوښه بغیر د کوم زور او جبر څخه د غړیتوب څخه وتل غواړي چی پدی مسئله کښې هیڅ کوم مشکل نشته او څنګه چې د عضویت لاسته روړل اختیاري وي، د لاسه ورکول یې هم اختیاري وي خو فقط د ملګروملتونو دفتر ته یو لیکلې خبر ورکوي.

**۲- اجباري اخراج:** لکه څنګه یې چه د نوم څخه معلومیږي پدې اخراج کښې یو غړې هیواد پخپله نه غواړي چه د ملګروملتونو د عضویت څخه ځان خارج کړي بلکه د ملګروملتونو لخود اجباراً خارجیږي او دا هغه وخت کیږي چه یو غړې هیواد په متواتر او مکرر ډول د ملګروملتونو د منشور څخه تخلف وکړي نو پدې صورت کې ددې هیواد موضوع د امنیت شورای په یوه جلسه کښې تر غور لاندې نیول کیږي نو که د امنیت شورای نه (۹) غړو د پنځه دایمي غړو په ګډون پدې هکله موافقې رائې ورکړي نو هیواد اخراج کیږي خو د امنیت شورای فیصله نهائي نده او موضوع بیا هم عمومي اسملې ته راجع کیږي چه هلته د خبرو او بحث څخه وروسته پرې رائې ګیري کیږي که چیري دو ثلثه موافقې رائې د نوموړې هیواد په اخراج باندی موجود شي نو هیواد اخراج کیږي. (د پوهنیار عبدالنبي بصیرت لکچر نوټ)

## دوم فصل

د ملګروملتونو اداري جوړښت :

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملګري ملتونه په حقیقت کي د یو تعداد ارګانونو څخه جوړ شوي دي ،چه دا ارګانونه عبارت دي د عمومي اسمبلي ، د امنیت شوراي ، اقتصادي او اجتماعي شوراي ، د قیمومیت شوراي ، دعدالت بین المللي محکمه او دارالانشا . چه مونږ هریو ددي ارګانونو څخه په جدا ډول مطالعه کوو:

## لمړي مبحث : د ملګروملتونو د سازمان عمومي اسمبله :

عمومي اسمبلي د ملګرو ملتونو د سازمان د شپږو اصلي ارګانو نو څخه یو ارګان دي چه د ملګرو ملتونو د سازمان د غړو هیوادونو ټول نماینده ګان پکي شتون لري په واقعیت کي عمومي اسمبله د غړو هیوادونو د نماینده ګانو څخه جوړه شویده او په عمومي اسمبله کي ټول هیوادونه یو شان او مساوي حقوق او وجایب لري یعني په عمومي اسمبله کي د غړو هیوادونو د نماینده ګانو تر منځ کومه برتري وجود نلري لکه د امنیت په شوراي کي چه دائمي غړي د غیر دائمي غړو په مقابل کي د ویټو حق لري ، عمومي اسمبله د نړیوالي سولي لپاره وړاندیزونه او پیشنهادات کوي او همدارنګه دا قتصادي او اجتماعي او د بشر د حقوقو د ترقي لپاره لازمي لارښووني کوي . د عمومي اسمبلي په اړوندپه لاندي موضوعاتو باندي رڼا اچوو: ( (WWW. Wikipedia.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اول جز: د عمومي اسمبلي جوړښت :

دا چه عمومي اسمبلي د نړیوال ماهیت لرونکي ده ولي په پرله پسي کلونو کي د نوو غړو د جذب څخه یي ځان ساتلي چه نوو غړو ته د عضویت د نه ورکولو دوه لاندي دلایل د مطالعه لاندي نیسو :

۱- د دوه لویو قدرتونو رقابت

۲- او د بعضي هیوادونو وړوکوالي

۱- د دوه لویو قدرتو رقابت : د ۱۹۵۵ م کال پوري د امریکا او شوروي اتحاد تر منځ رقابت د ملګرو ملتونو په سازمان کي د نوو غړو د عضویت اخیستلو مانع وه ولي وروسته بیا زیات هیوادونه د لویو او وړو هیوادونو څخه د ملګرو ملتونو په سازمان کي عضویت لاسته راوړ چه پدي ډول عمومي اسمبلي نړیوالتوب ثابت او حقیقت یي پیدا کړ .

ځیني هیوادونه د یو خاص حالت په لرلو سره د ملګروملتونو د سازمان عضویت وانه خیسته لکه دواړه آلمانونه ، دواړه کوریاګاني بیا وروسته په ترتیب سره په ۱۹۷۳ او ۱۹۹۱ کلونو په جریان کي دي هیوادونو د ملګرو ملتونو په سازمان کي عضویت قبول کړ و ، په اوس وخت کي په دنیا کي یواځي د سویس هیواد دي چه د ملګروملتونو په سازمان کي پدي دلیل غړیتوب نلري چه د بي طرفی سیاست یي غوره کړي البته د اتریش هیواد د بي طرفه هیواد په عنوان په ۱۹۵۵ م کي د ملګرو ملتونو د سازمان عضویت یي قبول کړ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- د نوو هیوادونو د عضویت د اخیستلو بله مانع د نوموړو هیوادونو وړوکوالي وه : په اویایمه لسیزه کي د امریکا متحده ایالاتو او ځیني نورو غربي هیوادونو د نړي د ځیني وړو هیوادونو د عضویت سره د ملګرو ملتونو په سازمان کي پدي دلیل یي مخالفت کولو چه دوي خپل تعهدات د منشور په اساس سرته نشي رسولي ، ان تردي چه په ۱۹٦۷م د جون په میاشت کي سرمنشي په خپله وینا کي وویل چه د نړي واړه هیوادونه د خپلو تعهداتو څخه د منشور له مخي نشي راوتلي . بیا وروسته په نړي کي د استعمار په لړ والي سره او په پرله پسي ډول د نوي هیوادونو په پیدایښت سره په ملګروملتونو کي د عضویت د اخیستلو په رابطه نظریاتو بدلون پیدا کړو او د اویایمي لسیزيي د لمړیو څخه زیاتو هیوادونو د ملګرو ملتونو په سازمان کي عضویت لاسته راوړ. (ص،۱۱۹ ، سازمان هاي بین الملل ، داکتر رضا موسی ذاده )

دویم جز : رایه ورکول په عمومي اسمبله کي :

د رایه ورکولو مسئله په عمومي اسمبله کي دیره مهمه موضوع ده چه د مختلفو موضوعاتو په اړوند د عضو هیوادونو د نماینده ګانو لخوا سرته رسیږي . هغه مسایل چه په عمومي اسمبله کي پري بحث کیږي کولي شو په دوه برخو تقسیم کړو :

(c) ketabton.com: The Digital Library

الف : مهم مسایل : د مهمو مسایلو په اړوند په عمومي اسمبله کي د اکثریت رایو په واسطه تصمیم نیول کیږي مهم مسایل په لاندي ډول دي .

- د بین المللي سولي او امنیت دساتلو لپاره لازمي لارښوني .

- د امنیت د شوراي د دائمي غړو انتخاب کول .

- د اقتصادي او اجتماعي شورای د غړو انتخاب کول .

- د قیمومیت د شوراي د غړو انتخاب کول .

د ملګرو ملتونو په سازمان کي د نوو غړو قبلول .

- د عضو هیوادونو عضویت په تعلیق کي اچول ( د حقوقو او مزایاوي ) او اخراج کول .

- هغه مسایل چه د قیمومیت نظام ته راجع کیږي .

- د ملګرملتونو د سازمان د بودیجي په اړوند مسایل او موضوعات .

ب :په عادي مسایلو کي فقط د رایو په اکثریت تصمیم نیول کیږي عمومي اسمبلي کولي شي چه ځیني عادي مسایل هم د مهمو مسایلو په فهرست کي زیات کړي ولي عمومي اسمبلي تر اوسه لدي حقه استفاده ندي کړي (ص،۱۲۱،سازمان هاي بین الملل

- عمومي اسمبلي یوازي د یوي رایي د ورکولو حق لري .

د ملګروملتونو هغه غړي چه په کافي اندازه مالي حیصه وربانديي پاتي وي او بقایات د دوو کالو د سهم له مقدار سره مساوي او یا تر هغه ډیر وي په عمومي

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسمبلي کي رايه نشي ورکولي ، خو برسيره پدغه ممانعت عمومي اسمبلي دغه ډول غړي ته پدي شرط باندي د رايه ورکولو حق ورکولي شي چي عمومي اسمبلي يقين ولري پدغه ورکړه کي د دغه غړي ناکامي داسي حالاتو نتيجه ده چه د نوموړي رکن د قدرت د باندي دي . (د ملګرو ملتونو د منشور ۱۹ ماده )

د رايه اخستلو او ورکولو مسلي په اړوند بايد يادونه وکړو چه په عمومي اسمبلي کي ټول غړي هيوادونه د رايه ورکولو يوشان او مساوي حق لري ، د رايه ورکولو په موضوع کي هيڅ لوي هيوادونه او واړه هيوادونه مترقي او غير مترقي مطرح ندي ټول برابر دي .

## دريم جز : د عمومي اسمبلي وظايف او اختيارات :

د عمومي اسمبلي وظايف او اختيارات د ملګرو ملتونو د منشور په چوکات کي ډير په پراخ ډول ذکر شويدي عمومي اسمبله د ملګرو ملتونو په چوکات کي د زياتو مسايلو او موضوعاتو په اړوند فيصلي او پريکړي کوي ، خو د عمومي اسمبلي پريکړي او فيصلي زيات وخت توصيه آميز جنبه لري د عمومي اسمبلي وظايف او اختيارات په لاندي ډول ذکر کوو :

– عمومي اسمبله د دغه منشور د عمل په دايره کي پر هر سوال يا معاملي باندي د څيرني واک لري او د هري هغي اداري پر اجراتو او اختياراتو باندي خبري اتري کولي شي چه ددي منشور په اثر منځته راغلي وي ، او په استثنا د هغو حالاتو (۱۲ ماده ) کي ذکر شويدي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دغه دول سوال يا معاملي په باب د ملگرو ملتو يا د امنيت شوراي او يا د دواړو غړو ته توصيه كولاي شي .

– عمومي اسمبله د بين المللي امنيت د ساتلو په چارو كي د بي وسلو كولو يا د وسلي د تجديد په گډون د عملي مرستي په عام اصولو باندي غور او له دغه اصولو متعلق خپلو اركانو يا امنيه مجلس او يا دواړو ته توصيه كولي شي .

– عمومي اسمبله پر داسي موضوع باندي چه په بين المللي امنيت اړه لري او د ملگرو ملتو د كوم غړي يا امنيت شورا او يا كوم داسي مملكت لخوا چه عضويت نه لري ، (۳۵) مادي (۲) فقري په اساس ورته وړاندي شي ، خبري اتري كولي شي او د (۱۲) مادي د ذكر شوي حالاتو په استثنا د دغه دول موضوع په نسبت مربوطه مملكت يا هيوادونو يا امنيت شوراي يا دواړو ته توصيه كولي شي ، هر هغه سوال به چه حل يي ضروري وي د عمومي اسمبلي لخوا پخوا تر څيړني يا وروسته تر بحث امنيت شوراي ته وليږل شي .

– عمومي اسمبله كولاي شي چه د امنيت شوراي توجه كوم داسي صورت حال ته واړوي چه د بين المللي امنيت لپاره د خطر موجب وي ، د عمومي اسمبلي هغه واك چه پدي ماده كي ذكر شويدي د(۱۰) مادي عام وسعت نشي محدود كولي .

– هر كله چه د امنيت شوراي د كومي شخړي د حل په لاره كي هغه اختيارات چه تر دغه منشور لاندي وركړل

(c) ketabton.com: The Digital Library

شويدي استعمال کيږيوي نو عمومي اسمبله د دغي نزاع ، يا صورت حال په باب تر هغه وخته کومه توصيه او سپارښت نه کوي ، څو چه امنيت شوراي يي غوښتنه ونکړي .

– د ملګرو ملتونو سرمنشي به د امنيت شوراي په موافقه د عمومي اسمبلي په هره دوره کي د بين المللي امنيت د قيام په متعلق د هغو ټولو مسايلو خبر ورکوي چه په امنيت شوراي کي تر اجرا لاندي وي او دغه ډول به هغه وخت چه د دغو مسايلو اجراآت په امنيت شوراي کي پاي ته وريسبږي ژر تر ژره عمومي اسمبلي ته ، او چه د عمومي اسمبلي د کار وخت نه وي د ملګرو ملتونه ټولو غړو ته اطلاع ورکړي .

١ – عمومي اسمبله د لاندنيو اغراضو لپاره تحقيقات او سپارښتونه کولاي شي :

– په سياسي دګر کي د بين المللي عملي مرستي ترقي ، د بين المللي قانون اعتلا او د هغه د تدوين تشويق او ترغيب .

: – د اجتماعي ، اقتصادي ، ثقافتي ، تعليمي او عامي روغتيا په دګر کي د بين المللي عملي تعاوون او ارتقاع او له ټولو خلکو سره د نسل جنس ، ژبي او مذهب له توپير نه پرته د انساني ، حقوقو او اساسي خپلواکيو په ګټلو کي مرسته .

= عمومي اسمبله د(١٢) مادي تر شرايطو لاندي د کوم داسي صورت حال د پر امن تصفيي لپاره چه داسمبلي په

(c) ketabton.com: The Digital Library

عقیده عمومي رفاهیت ته د زیان رسیدلو او د ملتونو تر منځ د دوستانه تعلقاتو د ورانولو سبب کیدي شي د مناسبو اقداماتو توصیه او سپارښت کولي شي ، او دغه ډول سپارښتونه د هغو مسایلو په نسبت هم کولاي شي چه ددي منشور د هغو احکام له خلاف ورزي څخه پیرا شوي وي چه په هغو کي د ملګرو ملتو اغراض ، مقاصد او اصول ښکاره شوي دي .

- عمومي اسمبله د هغو کلنیو حالاتو یا کومي خاصي واقعي رپورت اوریدلي او منلي شي چه دامنیت شوراي له خوا ورته وړاندي شي د دغه راپور له وراندي کولو سره د هغو تجویزنو کیفیت هم ضمیمه وي چه امنیت شوراي د بین المللي امنیت د قیام لپاره اختیار کړي . او یا یي طي کړي وي .

= عمومي اسمبله به د بین المللي قیمومیت د نظام په باره کي هغه وظایف اجرا کوي چه د دولسم او دیارلسم باب له مخي ورته محول شوي دي پدغو وظایفو کي د هغو سیمو د قیمومیت د فیصلو توثیق هم شامل دي ، چه فوق العاده ښه والي یا کوم بل اهمیت لري .

- عمومي اسمبله به د ملګرو ملتونو د سازمان بودیجه تر غور لاندي نیسي او منظور کوي .

- ددي موسسي د مصارفو ورکړه به د هغه تقسیم په اساس چه عمومي اسمبله یي وکړي د ملګرو ملتو په غړو باندي اړه لري .

(c) ketabton.com: The Digital Library

عمومي اسمبله به د (۵۷) مادي خصوصي مجلسونو مربوط ، مالياتي يا بوديجوي انتظام تر غور لاندي ونيسي او منظوري به يي وركړي او له دغه ډول خصوصي نماينده ګيو د عملانه موازيني تحقيق يا تنقيح به وكوي . تر څو متعلقه كميسيونو ته سپارښتونه وكولاي شي . (د ملګرو ملتونو د منشور (۱۲_۱۷) مادي)

- همدارنګه په عمومي ډول دعمومي اسمبلي اختيارات او واكونه په دوه برخو ويشل كيږي چه په لاندي ډول يي تر مطالعي تر مطالعي لاندي نيسو :

الف : دعمومي اسمبلي خصوصي واكونه : د عمومي اسمبلي واكونه هغه واكونه او اختيارات دي چه يوازي عمومي اسمبله يي د اجرا كولو صلاحيت لري او د ملګرو ملتونو نو اركانونه يي د اجرا كولو صلاحيت نلري .

۱- د فرعي اركانونو منځته راوړل .

۲- د بين المللي حقوقو تدريجي جوړول ( تدوين كول ) او پراختيا وركول .

۳- د ملګرو ملتونو د سازمان داخلي مسايل .

۱- د فرعي اركانونو جوړول : عمومي اسمبله كولاي شوي چه فرعي اركانونه منځته راوړي كولاي شو يادونه وكړو د ملګرو ملتونو د سازمان د خصوصي صندق څخه . د بين المللي خصوصي صندوق د جوړولو څخه هدف مالي پانګه ونه ده د هغه هيوادونو سره چه د ترقي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرمختګ په حال کي وي دا ارګان وروسته د ملګرو ملتونو د پراختيا د پروګرام په نوم ياد شو .

٢- د بين المللي حقوقو تدريجي تدوين او پراختيا .

عمومي اسمبله د بين المللي حقوقو د تدريجي تدوين او ترقي لپاره زمينه برابروي د همدي هدف لپاره عمومي اسمبله په ١٩٤٧ م کي د بين المللي حقوقو په نوم يو کميسون ايجاد کړو چه ددي کميسيون اعضا د عمومي لخوا د پنځه کالو لپاره د قوي حقوق دانانو څخه انتخاب کيږي چه شمير يي ٣٤ کسانو ته رسيږي د دي کمسيون غړي د خپل دولتونو څخه نماينده ګي نه کوي بلکه د علمي لياقت او استعداد په معيار انتخاب کيږي .

د حقوق بين الملل کميسيون کلني جلسات او غوندي دايروي .

د عمومي اسمبلي لخوا ايجاد شوي کنوانسينونه په لاندي ډول دي :

= د ١٩٥٨ م کال د ژنيو کنوانسيون د سمندرونو او د نظارت د سيمو .

- د ١٩٥٨ م کال د ژنيو کنوانسيون دفلات د قاره په اړوند .

- د ١٩٥٨ م د ژنيو کنوانسيون د ماهيانو او هغه ژنديو حيواناتوپه اړه چه په آزادو اوبو کي وي .

Hafizullah Kalim

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ۱۹٦۱ م کال د ویـن کنوانسیون د دیپلوماتیکو اړیکو په اړوند .

- د ۱۹٦۳ م کال د وین کنوانسیون د کنسلي اړیکو په اړوند .

- د ۱۹٦۹ م کال کنوانسیون د معاهداتو د حقوقو په اړوند .

د غیر مستقلو منطقو په اړوند د عمومي اسمبلي اختیارات .عمومي اسمبله د قیمومیت لاندي سیمو په اړوند پراخ اختیارات لري .

د عمومي اسمبلي د وظایفو څخه یو داده چه هغه پریکړي تصویب کړي چه د قیمومیت نظارت ، د قیمومیت د طرز او د قیمومیت لاندي سیمو ته د هغو له مخي استقلال ورکول کیږي . همدارنکه عمومي اسمبله خود مختاره سیمو ته د استقلال ورکولو لپاره هڅي او کوښښونه کوي د مثال په ډول په ۱۹٦۰ کال عمومي اسمبلي لخوا یوه اعلامیه صادر شوه پدي اعلامیه کي راغلي وه چه هغه مستعمره سیمو ته باید آزادي او استقلال ورکړل شي ددي اعلامیي د اجرا او نظارت لپاره د استعمار د کموالي په نوم یوه کمیته جوره شوه .

۳- د ملګرو ملتونو د سازمان داخلي مسایل : عمومي اسمبله لخوا د امنیت د شوراي د غیر دایمي غړو انتخابول ، د اقتصادي او اجتماعي شورای اعضاوو انتخابول د نورو ادارو او تخصصي سازمانونو او هم د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملګرو ملتونو لپاره د بودیجي ترتیب کول د عمومي اسمبلي خاص صلاحیت دي .

ب: د عمومي اسمبلي مشترک صلاحیتونه او اختیارات :

د عمومي اسمبلي مهم ترین غیر انحصاري صلاحیتونه دادي :

- د بین المللي سولي او امنیت ساتل . 1
- د عدالت د بین المللي محکمي دپاره د قاضیانو انتخابول . 2

٣- د عمومي اسمبلي سرمنشي انتخابول .

٤- د نوو غړو قبلول .

٥= د پخوانیو غړو اخراج کول .

٦= د پخوانیو غړو غړیتوب په تعلیق کي اچول .

٧- د ملګرو ملتونو د منشور د اصلاح په مورد کي .

د عمومي اسمبلي د غیر انحصاري واکونو په اړوند په لاندي موضوعاتو باندي بحث کوو:

١-

د عمومي اسمبلي د غیر انحصاري واکونو په اړوند د منشور (١٠ او ١١) ماده داسي وضاحت لري .

- عمومي اسمبله د دغه منشور په دایره کي په هر سوال یا معاملي باندي د څیړني واک لري او د هري هغي اداري په اجرات او اختیاراتو باندي خبري اتري کولي شي چه ددي منشور په اثر منځته راغلي وي او په استثنا د هغو حالاتو چه په دولسمه ماده کي ذکر شویدي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دغه ډول سوال یا معاملي په باب د ملګرو ملتو یا د امنیت د شوراي او یا دواړو ته توصیه کولای شي .

- عمومي اسمبله د بین المللي امنیت د ساتلو په جارو کي د بي وسلو کولو او یا د وسلي د تجدد په ګډون د عملي مرستي په عامو اصولو باندي غور او د دغو اصولو متعلق خپلو ارکانو یا امنیت شوراي او یا دواړو ته توصیه کولای شي .

- عمومي اسمبله پداسي موضوع باندي چه په بین المللي امنیت اړه لري او ملګرو ملتو د کوم غړي یا امنیت شوراي او یا داسي مملکت لخوا چه عضویت نلري د (۳۵) مادي د دوهمي فقري په اساس ورته وړاندي شي خبري اتري کولي شي او (۱۲) مادي د ذکر شوو حالاتونو په استثنا د دغه ډول موضوع په نسبت مربوط مملکت یا هیوادونو یا امنیت شوراي یا دواړو ته توصیه کولي شي هر هغه سوال چه حل یي ضروري وي د عمومي اسمبلي لخوا پخوا تر څیړني یا وروسته تر بحث امنیت شوراي ته ولیږل شي .

- عمومي اسمبله کولای شي چه د امنیت شوراي توجو کوم داسي صورت حال ته واړوي چه بین المللي امنیت لپاره د خطر موجب وي . د عمومي اسمبلي هغه واک چه پدي ماده کي ذکر شویدي د لسمي مادي عام وسعت نشي محدود کولي (د ملګروملتونو د منشور لسمه او یولسمه ماده )

(c) ketabton.com: The Digital Library

په حقیقت کې عمومي اسمبله د منشور د (۱۰ او ۱۱)مادو د موادو په اساس د توصي یا پریکړو چه عمومي اسمبله یې صادر کوي کولای شي د دنیا په عمومي افکارو کې نفوذ وکړي . د بل طرفه کله چه د امنیت د شوراي فعالیتونه د کوم دایمي غړي لخوا د ویټو سره مخامخ شي او نوموړي تصمیم امنیت شوراي کې سرته و نه رسیږي نو عمومي اسمبله کولای شي چه نوموړي قضیه کې مداخله وکړي او د لزوم په صورت کې پریکړه لیک صادر کړي .

۲- عمومي اسمبله د اول کمیټې لاره او طریقي (یعني د سیاسي او امنیتي مسایلو کمیټه ) عمومي اسمبله دخپلو وظایفو په اجرا او نظارت کې د ملګرو ملتونو د سازمان ټول فعالیتونه د امنیت د شوراي فعالیتونه ، د سرمنشي فعالیتونه ، په هر کال کې تر غور لاندي نیسي او د ضرورت په صورت کې لازمي توصیه کوي .

۳- عمومي اسمبله د امنیت د شوراي غیر دایمي غړي انتخاب کوي کوم چه د بین المللي سولي او امنیت د ساتلو مسولیت په غاړه لري په حقیقت کې عمومي اسمبله د امنیت د شوراي دوه پر دري برخي غړي انتخاب کوي چه پدي ډول سره عمومي اسمبله د بین المللي سولي او امنیت په ساتلو کې دوهم نقش او رول لري په عمل کې اول نقش د امنیت شوراي لري او عمومي اسمبله دوهم نقش لري .

(c) ketabton.com: The Digital Library

× ځيني هيوادونو د عمومي اسمبلي د تدريجي اهميت لپاره د بين المللي سولي او امنيت په اړوند بعضي اقدامات کړيدي چه مهم يي په لاندي دول دي :

A - خپل منځي دوريي کميټي جوړول : ديته په پام سره چه د سوړ جنګ په جريان کي د امريکا او شوروي اتحاد تر منځ روابط ښه وه په هيڅ صورت د دي دواړه لويو هيوادو تر منځ توافق ممکن نه وه شوروي اتحاد په تکرار سره د ويټو د حق څخه استفاده کوله چه پدي کار سره يي عملاً د امنيت د شوراي فعاليتونه د فلج سره مخامخ شوي وه .

پدي وخت کي امريکا په عمومي اسمبله کي د پراخ حمايت څخه برخمنه وه .

په ۱۹٤۷ م کال امريکا وړانديز وکړ چه د مهمو مسايلو په اړوند د تصميم نيول د امنيت د شوراي څخه عمومي اسمبلي ته انتقال شي او د منشور د (۲۲) مادي په اساس دي يوه کميټه جوړه شي . ددي کميټي د جوړولو څخه هدف د کنترول ساتل وه چه عمومي اسمبلي بعضي لازم سياسي مسايل په هغوي باندي تحميل کړي .

خپل منځي دوره يي کميټه د عمومي اسمبلي د ټولو غړو څخه تشکيل شوه ولي پدي کميټه د پنځه نماينده ګانو په ځاي يوازي يو نفر د ګدون حق درلوده ددي کميټي صلاحيتونه پخپله د عمومي اسمبلي لخوا ډير محدود شوي وه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا کمیټه د شوروي اتحاد لخوا بایکات شوله او د هغې جوړیدل یې د منشور د ۲۰ مادې نقض کول وګڼل .

دغه ډول کمیټۀ په ۱۹۴۸ او ۱۹۴۹ کلونو کې نوي جوړه شوه ولې وروسته تر اوسه پورې ندي جوړه شوي .

عمومي اسمبله کولی شي چه د خپلو عادي غونډو او استراري غونډو په جریان کې د سولې او امنیت په رابطه مسایل تر غور او څیړنې لاندې ونیسي او لازمه توصیه وکړي .

B_ د سولې لپاره د اتحاد پریکړه لیک :

د سولې لپاره د اتحاد پریکړه لیک د ۱۹۵۰ د نومبر په ۳ نیټه د عمومي اسمبلې لخوا تصویب شو چه دې پریکړه لیک د بین المللي سولې او امنیت په ساتلو کې د عمومي اسمبلې نقش او رول زیات کړ دا پریکړه لیک د کوریا د جنګ په وخت کې چه شوروي پدې اعتراض چه د ملګرو ملتو سازمان د چین جمهوري خلق د قبلولو په سبب وتلې وه او د امنیت په شوراي کې حضور نه درلوده صادر شوله .

امریکا د ملګرو ملتو د قواوو د امیر او قوماندان په صفت وټاکل شوه . چه د جنوبي کوریا او شمالي کوریا سره جنګ وه .

شوروي اتحاد ددې اقدام د مخنیوي پخاطر بیرته د امنیت شوراي ته وګرځیده ولې امریکا دا موضوع په عمومي اسمبله کې مطرح کړه . پدې پریکړه لیک کې راغلې دي هر کله چه د امنیت شوراي ونشي چه د سولې

(c) ketabton.com: The Digital Library

او تجاوز د ماتولو په مقابل کي اقدام وکړي نو عمومي اسمبله د يو فوق العاده جلسي په ترخ کي د بحران سيمي ته د قواوو لپاره تصميم نيسي دا پريکړه ليک د شوروي اتحاد د مخالفت سره په تصويب ورسيده .

C_ د مشترکو اقداماتو د کميټي جوړول :

دا کميټه د ١٤ غړو څخه جوړيږي او هغه ټولنيز فعاليتونه چه د عمومي اسمبلي په توصيه او لارښونه سرته رسيږي هم غږي کوي . په هغه صورت کي چه سولي ته خطر وي او يا کوم يرغليز عمل صورت ونيسي او پدي حالاتو کي عمومي اسمبلي جلسه موجود نه وي . د امنيت د شوراي د ٩ غړو په توصيه يا اکثريت غړو په غوښتنه عمومي اسمبله يوه اضطراري جلسه جوړوي .

دا روش وروسته د انګلستان او فرانسي د مخالفت د امريکا د پريکړه ليک په تصويب چه په مصر باندي د نظامي عملياتو د امريکا لخوا په ١٩٥٦ د اکتوبر په ٣١ د استفادي وړ وګر ځيده .

د شوروي اتحاد د ويتو څخه د مجارستان مسله د کتني او اقدام لپاره ددي کميټي د لاري عمومي اسمبلي ته وليږل شو.

D-دعمومی اسمبلي ځانګړي بيرنۍ غونډي : د سولي د اتحاد لپاره پريکړه ليک د عمومي اسمبلي د بيرني غونډو د جوړيدو منشا نده بلکه د امنيت د شوراي له طرفه او يا د عضو هيوادونو د نماينده ګانو د اکثريت په غوښتنه او يا په هغو حالاتو کي چه په امنيت شوراي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کي کومه پریکړه د ویټو سره مخامخ شي البته د یو یا څو دائمي غړو لخوا د عمومي اسمبلي لخوا بیړني غونډي دایریږي . د ۱۹۹۱ م کال پوري نهه بیړني غونډي دایر شویدي پنځه یي په ذکر شوي طریقه او څلور یي د سولي لپاره د اتحاد د پریکړه لیک په استناد .

۵- د عدالت د بین المللي محکمي لپاره د قاضیانو انتخابول :

د عدالت د بین المللي محکمي لپاره قاضیان د عمومي اسمبلي او امنیت شوراي لخوا انتخاب کیږي البته د عدالت د بین المللي محکمي د اساس نامي د څلورمي او څوارلسمي مادو په رنا کي .

٦- د ملګرو ملتونو د سر منشي انتخابول :

د ملګرو ملتونو سرمنشي د امنیت د شورا په توصیه باندي د عمومي اسمبلي لخوا انتخاب کیږي .

٧- د نوو غړو قبلول :

د نوو غړو قبلول د ملګرو ملتونو د غړي په حیث د امنیت د شوراي په توصیه باندي د عمومي اسمبلي لخوا منل کیږي .

٨- د غړو اخراج :

عمومي اسمبلي کولاي شي چه د ملګرو ملتونو داسي غړي چه په پرله پسي د دغه منشور له مندرجه اصولو څخه تیري کړي وي د امنیت د شوراي د غوښتني په اثر له دغه سازمان او موسسي څخه وباسي .

٩- د یو غړي هیواد غړیتوب په تعلیق اچول :

(c) ketabton.com: The Digital Library

عمومي اسمبله د ملګرو ملتونو هر هغه غړي چه د هغه په خلاف د امنيت شوراي عملي اقدامات کړيوي او بنديزونه يي وربانـدي لګولي وي د امنيت شوراي د غوښتني په اثر د غړيتوب د حقوقو او اختياراتو څخه منع کولاي شي او د امنيت شوراي واک لري چه د د غه حقوق او اختياراتو استعمالول بيا هم د دوهم ځل لپاره پرځاي کړي .

تر اوسه پوري د ملکرو ملتونو د سازمان هيڅ يو غړي نه اخراج شوي او نه يي عضويت په تعليق اچول شوي ولي اعتبار نامي د عمومي اسمبلي لخوا رد شويدي لکه په ۱۹۷٤ م کال د سپتمبر په دريمه نيټه د جنوبي افريقا اعتبار نامه د عومي اسمبلي (XXX) ۳۲۰۷ د پريکړه ليک په واسطه د عمومي اسمبلي لخوا رد شو .

۱۰- د منشور اصلاح :

د منشور د اصلاح د پاره نيټه او محل د عمومي اسمبلي د دوه پر دري رايو په واسطه او د امنيت شوراي په موافقه تعين کيږي .

د ملکرو ملتونو د سازمان د غړو څخه يو بين المللي کنفرانس جوړيږي پدي کنفرانس کي هر غړي يوازي د يوي رايي د ورکولو حق لري . ( د منشور ۱۰۹ ماده )

ج = په عمومي اسمبلي پوري تړلي کميټي : د عمومي اسمبلي اصلي کميټي په لاندي ډول دي .

۱- د سياسي او امنيتي مسايلو کميته .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- د اقتصادي از مالي مسايلو كميټه .

۳- د انساني ، اجتماعي ، او فرهنگي مسايلو كميټه .

٤- د قيموميت مربوط كميټه .

٥- د اداري او بوديجي د امورو كميټه .

٦ = د حقوقي امورو كميټه .

۷- ځانګړي سياسي كميټه .

علاوه د پورته كميټو څخه عمومي اسمبلي دوه تشريفاتي او دوه اصلي كميټې هم لري . دوه تشريفاتي كميټې عبارت دي د عمومي كميټه او د اعتبار نامي كميټه او دوه اصلي كميټي عبارت دي د اداري او بوديجي د مسايلو كميټه او د اعضاوو د حق كميټه چه د مشورتي كميټو په نوم هم ياديږي . د عمومي اسمبلي د غوندو په اول كي عمومي كميټه د جلسه د د ستور له مخي هغه موضوعات چه په كوم اصلي كميټې پوري مربوط وي د غور او بر رسي لپاره ورته سپاري . اصلي كميټه د عضو هيوادونو د نماينده ګانو څخه جوړه شويده پدي كميټه كه په اړوند موضوعاتو باندي مذاكرات سرته رسيږي او وروسته د عمومي اسمبلي عومي غوندي ته وړاندي كيږي چه په آخر كي په عومي اسمبله كه د نوموړي موضوع په اړوند رايه ګيري كيږي .

د يادولو وړ ده چه په كمو مواردو كي د يوي موضوع په اړوند په عمومي اسمبله كي مذاكرات وشي . علاوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پدي کميټو باندي عومي اسمبله کولاي شي چه د وظايفو د اجرا لپاره نوري کميټي ايجادي کړي .

د – د عمومي اسمبلي د کار قانون :

د عمومي اسمبلي د کار قانون په لاندي ډول په مختصره توګه تشريح کوو :

عمومي اسمبله دري ډوله غونډي لري چه عبارت دي له عادي غونډي ، بيړني غونډي او بيړني اضطراري غونډي .

۱- عادي غونډي : عمومي اسمبله په نورمال ډول هر کال د سپتمبر په دريمه نيټه باندي په کار شروع کوي او د عمومي کميټو د توصيه په اساس د پاي نيټه د شروع غونډي څخه مشخص کيږي .

د عمومي اسمبلي ځاي د امريکا د نيويارک په ښار کي دي او بيړني غونډي هم پدي ځاي کي دايريږي ولي د عمومي اسمبلي جلسات د مخکنيو تصاميمو او يا د سازمان داکثريت غړو د غوښتني په اساس په نورو ځايونو کي هم دايريږي .

همدارنګه د ملګرو ملتونو هر غړي کولاي شي چه ۱۲۰ ورځي مخکي د جلسي د افتتاح او شروع نيټه څخه غوښتنه وکړي چه جلسه د نيويارک په ځاي په بل ځاي کي داير شي چه د سر منشي په واسطه به دا اطلاع نورو غړو ته رسيږي که ددي اعلان څخه وروسته تر ۳۰ ورځو پوري د سازمان اکثريت غړو موافقه وه په هماغه ترتيب جلسه دايريږي سر منشي حد اقل بايد د جلسي د دايريدو څخه مخکي د سازمان غړو ته اطلاع ورکړي . عمومي اسمبله

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولاي شي چه جلسه د موقت وخت لپاره په تاخير واچوي .

۲- ځانګړي غونډي : ځانګړي غونډي عمومي اسمبله هغه وخت دايروي چه د امنيت شوراي يي غوښتنه وکړي او يايي د سازمان اکثريت اعضا غوښتنه وکړي .

۳- بيړني ځانګړي غونډي : همدارنګه عمومي اسمبله کولاي شي چه ځانګړي بيړني غونډه جوړه کړي. دا غونډه ۳۷۷A (V) د پريکړه ليک په اساس باندي عمومي اسمبله بايد ۲٤ ساعته کي د امنيت شوراي او يا د سرمنشي په غوښتنه بيدون لدي چه دايمي او غير دايمي اعضا په نظر کي ونيول شي او يا هم د ملګرو ملتونو د سازمان اکثريت اعضا په نظر کي ونيول شي بايد جوړه شي .

سرمنشي حد اقل بايد ٤٠ ورځي مخکي د بيړني ځانګړي غونډي د شروع څخه مخکي جوړيږي . او حد اقل ۱۰ ورځي مخکي که داکثريت اعضاوو په غوښتنه جوړيږي د سازمان ټولو اعضاوو ته خبر ورکړي . په هغه صورت کي که غونډه د منشور د (۸) مادي په اساس جوړيږي سرمنشي بايد ۱۲ ساعته مخکي د غونډي د دايريدو څخه مخکي د سازمان اعضاوو ته خبر ورسوي .

Hafizullah Kalim

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دوهم مبحث

## د امنیت شورای

د امنیت شورای د ملګروملتونو د سازمان یو اصلي ارګان دی چه په نړی کښې د سولې او امنیت د ساتلو مسؤلیت په غاړه لري چه دا مسؤلیت د نړی لویو قدرتونو ته د دوهم نړیوال جنګ په جریان کښې پیدا شوې ؤ چه بیا د امبارتن اوکسي په نړیوال کنفرانس کښې ددې لویو قدرتونو لخوا وړاندې شو په حقیقت کښې د ملګروملتونو سازمان د تشکیل په وخت کښې داسې اورګان په نظر کښې نیول شوې ؤ چه کله بین المللې سوله او امنیت د خطر سره مخامخ کیږي سریع اقدام وکړي.

د امنیت شوراي د نړیوالې سولې او امنیت د ساتلو په منظور بین المللي بندیزونو، مسلحو قواوو او نورو پریکړه لیکونو څخه استفاده کوي.

د امنیت شورای خپله اولینه غونډه په ١٩٤٦م کال کښې د جنوري په ١٧ نیټه باندی د لندن د چرچ هاوس (Church House) کښې دایره کړه ولې اوس د امنیت د شورای دایمي کور د امریکا د نیویارک په ښار کښې دی .

د امنیت د شورای په اړوند لاندی موضوعات تر بحث لاندی نیسو.

د امنیت د شورای جوړښت، د رائې اخیستنه، د شورای وظایت او اختیارات د ویتو حق .

اول جز: د امنیت د شورای جوړښت:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د امنیت شورای د دولتونو څخه یو جوړ شوی اورګان دی چه مجموعاً (۱۵) غړي لري چه په دو برخو ویشل کیږي دایمي غړي او غیر دایمي غړي چه هریو په لاندی ډول مطالعه کوو.

**الف:د امنیت شورای دایمي غړي :** د امنیت شورای دایمي غړي هغه دي چه د مربوطه دولتونو لخوا د امینت شورای ته معرفي کیږي . د امنیت شورای د ایمي غړي عبارت دي له : جمهوري خلق چین، فرانسه، روسیه، انګلستان او امریکا څخه یعنی ددی هیوادنو نماینده ګان د امنیت د شورای دایمي غړي دي چه د تل لپاره د امنیت په شورای کښې موجود وي .

د امنیت د شورای دایمي غړي د امنیت په شورای کښې له تل لپاره د اوسېدو او موجودیت د امتیاز ترڅنګ د ویتو د حق څخه هم برخمند دي .

د پروفیسور جیساپ په قول باندې د امنیت شورای دایمي غړو ته دا ډول امتیاز پدی علت ورکړل شوې دی چه په نړی کښې د سولې او امنیت د ساتلو دننده په اول قدم کښې ددی هیوادونو په غاړه ده .

که څه هم د امنیت د شورای پنځه (۵) دایمي غړي اوس او په تیر وخت کښې په نړی کښې لوی قدرتونه ؤ ولی نشوویلای چه دوي به په آینده کښې هم پدی ډول د نړی لوی قدرتونه پاتی شي ځکه پدی روستیو کښې په نړی کښې زیات انکشافات منځته راغلی دي او زیاته هیوادونو ترقی او پرمختګ کړی دی او د امنیت د شورای د دایمي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غړو د تعداد د زیاتیدو غوښتنه یې کړیده. هغه هیوادونه چه د ترقی په حال کښې دي عبارت دي د هندوستان او برازیل څخه ولې تر اوسه پوری د امنیت د شورای په دایمي غړو کښې کوم تغیر او بدلون نده راغلې.

ب: د امنیت د شورای غیر دایمي غړي: د امنیت د شورای غیر دایمي غړي د هغو غړو څخه عبارت دی چه د مربوطه دولتونو او یا حوزو لخوا معرفي کیږي او د عمومي اسمبلې لخوا د امنیت د شورای د غیر دایمي غړو په حیث تائید کیږي البته دغه معرفي شوي غړي په عمومي اسمبله کښې د نوموړو حوزو نمایندگان وي.

د امنیت د شورای د غیر دایمي غړو تعداد په ۱۹٤٥م کال کښې شپږ (٦) کسان ښودل شوي ؤ ولې په ۱۹٦۳م کال د دسبر په ۱۷ نیټه د عمومي اسمبلې لخوا یوه پریکړه تصویب شوه چه پدی اصلاحیه کښې د امنیت د شورای د غیر دایمي غړو تعداد د شپږ(٦) غړو څخه لسو(۱۰) ته زیات شو خو د امنیت شورای په دایمي غړو کښې کوم تغیر او بدلون رانغلې چه پدی ترتیب سره د امنیت د شورای د غړو تعداد د یولسو(۱۱) څخه پنځلسو(۱٥) ته زیات شو.

دا تغیرات د ۱۹٦۳م تر ۱۹۷۳م کالونو په موده کښې چه د ملگروملتونو د سازمان د غړو تعداد د ۱۱۲څخه تر ۱۳٥ ته زیات شوي ؤ تر سره شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ملګروملتونو عمومي اسمبله د امنیت د شورای د غیردایمي غړو په انتخاب کښې لاندې معیارونه په نظر کښې نیسي:

۱- د بین المللي سولې او امنیت او د سازمان په نورو اهدافو کښې مرسته .

۲- چوکې باید په جغرافیوي لحاظ په عادلانه ډول وویشل شي.

د غیر دایمي غړو انتخاب د عمومي اسمبلې د دوه ثلثه مثبت رائیو په واسطه صورت نیسي ولې د دوه ثلثه رایئو لاسته راوړل هم اسان ندي.

ځیني هیوادونو لکه لهستان په ۱۹٦۳ د اکتوبر په ۳۰ نیټه ٥۱ دور رائیه اخستنه کښې، ځیني نور هیوادونه لکه یوګوسلاویا په ۱۹٥٥ د دسمبر په ۲۱ نیټه دوره رائیه اخستنه، یونان په ۱۹٥۱م د دسمبر په ۲۱ نیټه ۱۹ دوره کښې د امنیت شورای ته د غیر دایمي غړو په صفت داخل شول.

څرنګه چه پورته ذکر شول د عمومي اسمبله د امنیت د شورای د انتخاب دپاره یو معیار په جغرافیوي لحاظ د چوکیو عادلانه ویش په نظر کښې نیسي.

ولې په عمل کښې عمومي اسمبله سیاسي او حقوقي معیارونه په نظر کښې نیسي.

مشترک المنافع هیوادونه په غیر د ۱۹٦٤، ۱۹٦٥ او ۱۹۷۲ کلونو څخه همیشه د امنیت دشورای غیر دایمي غړي اوسېدلي دي. پدې ترتیب سره د لاتیني امریکا

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیوادونه، د عربو اتحاد او افریقائي هیوادونه معمولاً د امنیت د شورای غیر دایمي غړي ؤ.

د جغرافیوی معیار په نظر کي نیولو سره په ۱۹٦٥ م کال کي د امنیت د شوراي د غیر دایمي غړو جغرافیوي ویش په لاندي ډول دي .

- د لا تین امریکا هیوادونو لپاره دوه چوکی .
- د شرقي اروپار لپاره یوه چوکی .
- د غربي اروپا د پاره یوه چوکی
- د منځني ختیځ لپاره یوه چوکی
- د مشترک المنافع هیوادونو لپاره یوه چوکی

د ۱۹٦٣ م کال د دسمبر په ۱۷ نیټه د عمومي اسمبلي لخوا یو پریکړه لیک صادر شو چه په ۱۹٦٥ م کال د سپتمبر په اول قابل د اجرا شو پدي پریکړه لیک کي د امنیت د شوراي د غیر دایمي غړو انتخاب د جغرافیوي ویش له مخي په لاندي ډول دي .

د آسیایي او افریقایي هیوادونو لپاره پنځه چوکی .

د لا تین امریکا او کاریاب د دریاب د د حوزي لپاره دوه چوکی .

د شرقي اروپا د هیوادونو لپاره یوه چوکی .

د غربي اروپا د هیوادونو لپاره یوه چوکی .

اقیانوسیه او نورو دولتونو لپاره لکه کاناډا ، زیلاند او نورو هیوادونو لپاره یوه چوکی .

Hafizullah Kalim

(c) ketabton.com: The Digital Library

د امنيت د شوراي د دايمي او غير دايمي غړو څخه علاوه د ملګرو ملتونو د منشور يو ديرشمي مادي په اساس هر غړي هيواد د امنيت د شوراي په غونډو او مذاکراتو کي بي د رايه د ورکولو د حق څخه شرکت کولي شي خصوصاً په هغه مذکراتو کي چه د ملګرو ملتونو د کوم غړي هيواد نفع په کي وي .

همدارنکه د ملګرو ملتونو د منشور د ۳۲ مادي په اساس د دي سازمان غړي هيواد او يا که غړيتوب ونلري او د هغه اختلاف يو طرف وي چه د ملګرو ملتونو د سازمان د امنيت د شوراي د رسيدګۍ لاندي وي د امنيت شوراي يي بغير د رايي او نظر د ورکولو څخه دعوت کړي ترڅو په اړونده مذاکراتو کي شرکت وکړي البته هغه هيوادونه چه د ملګرو ملتونو د سازمان عضويت ونلري د امنيت شوراي کولاي شي د هغوي لپاره يوه اندازه عادلانه شرايط وضع کړي .

دوهم جز: د امنيت په شوراي کي رايه اخيستنه:

د ملکرو ملتونو د سازمان د امنيت په شوراي کي د رايو د اکثريت په واسطه تصميم نيول کيږي يعني د امنيت شوراي چه د يوي مسلي په مورد کي تصميم نيسي معيار يي د رايو اکثريت دي .

د رايو د اکثريت څرنګوالي په ټولو موضوعاتو کي يو شان په نظر کي ندي نيول شوي يعني په هغه مسايلو کي چه د کار قانون پوري اړه لري او په هغه مسايلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کي چه د کار قانون پوري اړه نلري تفاوت او فرق لري .

د کار د قانون په تصميم د نهه مثبت رايو په واسطه نيول کيږي بغير لدي چه د رايو نوعيت په نظر کي ونيول شي يعني دايمي او غير دايمي غړي ، د رايو اکثريت داسي رقم دي چه سره لدي چه د امنيت د شوراي منفي رايي هم ولري په هغه مسايلو په رابطه چ د کار د قانون مطابق وي د غير دايمي غړو د نهه مثبتو رايو په واسطه تصميم نيول کيږي .

د ملکرو ملتونو د سازمان منشور د کار د قانون پوري مربوط اړوند مسايل ندي مشخص کړي او پدي برخه کي سکوت لري ليکن د امنيت د شوراي د رويه په اساس په غير د کار د قانون څخه کولي شو لاندي موِضوعات ياد کړو :

= د شوراي د غونډو پوري اړوند موضوعات د کار لپاره د لارښود انتخاب .

- د شوراي د پاره د رئيسانو انتخابول .
- د ملګرو د غړو ګډون په شوراي کي .
- يو دولت او يو شخص کډون د شوراي د کار لپاره .
- د عمومي اسمبلي د جوړښت لپاره لارښوني او هدايات .
- هر ارخيز کنفرانس جورښت په منشور کي د تجديد نظر لپاره .

Hafizullah Kalim

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سن فرانسیسکو په نړیوال کنفرانس کي په ۱۹٤٥ م کال کي یوه لیکنه ولوستل شوه چه د امنیت د شوراي د دایمي غړو د تائید وړ وګرځیده پدي لیکنه کي واضیح شوي وه چه د امنیت د شوراي د غوندو په لارښود کي هره موضوع ثبت او درج شي د شوراي د کرني او د قانون جز ګرځي .

نو پدي اساس د امنیت د شوراي د دایمي غړو څخه یو هم نشي کولاي چه د ویتو د حق په استعمال سره د هغه موضوع یوه طرحي مانع وګرځي په شوراي کي .

د نو رو موضوعاتو او مسایلو په اړوند پریکړه او تصامیم پغیر د کار د قانون د رایو په اکثریت په هغه صورت کي چي د دایمي غړو څخه یو هم منفي رایه ورنکړي نیول کیږي . پدي ډول مسایلو کي که د امنیت د شوراي د دایمي غړو او غیر دایمي غړو څخه ١٤ مثبتي رایي ورکړي نو د یو دایمي غړي د منفي رایي په ورکولو باندي د نوموړي موضوع په اړه پریکړه نه کیږي او رد کیږي چه په حقیقت کي همدي عمل ته د ویتو حق ویل کیږي .

هغه مهم مسایل چه مطلق اکثریت لاسته راوړلو ته ضرورت لري له لاندي ډول دي :

- د مسایلو حل په سولیز ډول .
- اصلاح کونکي اقدامات .
- د ملکروملتونو په سازمان کي د یو دولت عضویت په تعلیق کي اچول او یا اخراج کول .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د امنیت د شوراي رابطه د عمومي اسمبلي سره او د سر منشي انتخابول .

دريم جز : د امنيت د شوراي وظايف او اختيارات :

د امنیت د شوراي د منشور د موادو له مخې اصلي وظيفه د بين المللي سولي او امنيت ساتل دي . علاوه د اصلي وظيفي څخه د امنيت د شوراي ټول اقدامات بايد د ملګرو ملتونو د سازمان د منشور په چوکات کي اجرا شي د امنيت شوراي د ملګرو ملتونو د اهدافو او اصولو په نظر کي نيولو سره په مختلفو برخو کي لازم اقدامات ترسره کوي .

امنيت شورا د خپلي اصلي وظيفي د اجرا لپاره يعني د نړيوالي سولي او امنيت د ساتلو لپاره په لاندي دوه طريقو باندي عمل کوي .

الف: د اختلافاتو حل په سوليز ډول .

ب: د امنيت د شوراي جبري او قهرجن اقدامات .

الف: د امنيت شوراي هغه اختلافاتو د سوليز حل لپاره مداخله کوي چه ددي احتما موجود وي چه دغه اختلافات بين المللي امنيت او سوله په خطر کي اچوي . ت

د امنيت شوراي سولي ته د خطر په صورت کي د يرغليز اقداماتو په صورت کي د دعوا يا د اختلاف طرفينو ته د اختلاف سوليز حل توسعه او لارښونه کوي که د اختلاف طرفين اختلاف ته دوام ورکړي او بين المللي سولي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

امنیت ته خطر متوجه کړي د امنیت د شوراي د اختلاف د حل لپاره لاندي روشونو ته د مراجعي توصیه کوي .

- مذاکره
= منځګریتوب
- جوړښت او سازش
- قضایي رسیدګي
- د سیمه ایزو ادارو او یا نورو سولیزو وسایلو په واسطه اختلاف حل .

× هغه مرجع چه د بین المللي اختلافاتو اطلاع او خبر د امنیت شوراي ته ورکوي په لاندي ډول دي :

١- د ملګرو ملتونو د سازمان هر غړي هیواد کولاي شي چه امنیت شوراي یا عمومي اسمبلي ته د نړیوال اختلاف اطلاع ورکړي .

٢- هغه هیوادونه چه د ملګرو ملتونو په سازمان کي غړیتوب ونلري د هغه اختلاف څخه چه خپله يي یو طرف وي د امنیت شوراي یا عمومي اسمبلي ته اطلاع ورکړي .

٣- عومي اسمبله کولاي شي هغه کړکیچ ته د امنیت شوراي توجو واړوي چه احتمالاً نړیواله سوله او امنیت په خطر کي اچوي .

پدي ځاي کي ددي خبري یادونه ضروري ده که د یوه اختلاف په رابطه د امنیت شوراي خپل واک استعمال کړي نو عمومي اسمبله بیا سپارښتنه نشي کولي مګر په هغه صورت کي که د امنیت شوراي غوښته يي وکړي بناً پداسي مواردو کي د عمومي اسمبلي صلاحیت دوم دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

٤- د ملکرو ملتونو د سرمنشي په واسطه که کوم نړیوال کړکیچ پدي سازمان د سرمنشي په عقیده بین المللي سولي او امنیت ته خطر وي س منشي کولاي شي چه د هغه اختلاف اطلاع د امنیت شواي ته ورکړي .

وروسته له هغه چه د پورته کومي مرجع په واسطه د امنیت شوراي ته د اختلاف اطلاع ورکړل شي نو د امنیت شوراي په تشریفاتي دول د رایو په اکثریت (۹) سره پریکړه کوي چه آیا دغه د اختلاف موضوع د خپل کار په قانون کي داخل کړي او که نه .

د امنیت شوراي حق لري چه د غه اختلاف بین المللي و بولي او د خپل کار په قانون کي داخل کړي او یا هغه اختلاف بین المللي ونه بولي او هغه په هیوادونو پوري مربوط وګني نو بیا د منشور د ۲۷ مادي له مخي د امنیت شوراي د دولتونو په داخلي مسایلو کي د مداخلي حق نلري او هغه د تشریفاتي تصمیم په واسطه پریږدي او صرف نظر تري کوي .

بناً کولاي شو چه آخرني پریکړه د امنیت د شوراي په لاس کي ده هغه اختلاف او کړکیچ ته د رسیدګي په صورت کي چه نړیواله سوله او امنیت په خطر کي اچوي مجبوره ده چه د کړکیچ طرفین دعوت کړي تر څو بیدون د رایي د ورکولود حق څخه په مذاکراتو کي ګډون وکړي همدارنګه که هره مسله په شوراي کي مطرح کیږي شوراي د دعوت حق لري خصوصاً په هغه صورت کي چه نوموړي مسله د کوم غړي هیواد د منافعو لپاره موثره وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو نړيوال کړکيچ ته د رسيدگي په صورت کي بيدون لدي چه د طرفينو نظريات واوريدل شي د امنيت شوراي کولاي شي د تحقيقاتو لپاره يو فرعي ارکان جوړ کړي ترڅو ذکر شوي کرکيچ په رابطه لازم معلومات راټول کړي .

د امنيت شوراي يو بين المللي کړکيچ ته په لاندي مختلف طريقو رسيدگي کوي .

A= د امنيت شوراي کولاي شي چه د کړکيچ د طرفينو څخه د حل او فصل لپاره په سنتي طريقه غوښتنه وکړي . (مذاکره ، منځکريتوب ، سازش وغيره )

پدي طريقه د کړکيچ د حل روش انتخابول طرفينو ته پريښودل کيږي .

B- د امنيت شوراي کولاي شي چه د اختلاف د حل په هره مرحله کي مناسب توصيه وکړي پدي حالات کي اختلاف د حل شيوه او لاره د شوراي لخوا طرفينو ته وړانيز کيږي البته هغه لارښونه چه د امنيت شوراي يي کوي بايد دا په نظر کي ولري چه قضايي اختلافات په مکمل ډول د دعوا د طرفينو په واسطه د عدالت د نريوالي محکمي د اساسنامي په اساس دي ديوان او محکمي ته استول کيږي .

تنګه کورفو په مسله کي د امنيت شوراي د اختلاف طرفينو ته توصيه وکړو چه مسله د عدالت بين المللي محکمي ته راجع کړي. البته دا يواځني مورد دي چه

(c) ketabton.com: The Digital Library

طرفینو ته دیوان ته استولو یا او ارجاع کولو توصیه د شوراي لخوا شویده .

په ۱۹۵۱ م کال د سویز د کانال په کډون د هند او پاکستان اختلاف او همدارنگه په ۱۹٤۷ م کال کي د اندونیزیا په مسله کي د امنیت شوراي ته د حاکمیت لاره وړاندیز کړي وه .

C- په هغه اختلافاتو کي چه د طرفینو حقوق د اثر لاندي راولي شوراي کولاي شي هغه مقررات چه د هغو په واسطه اختلاف حل او فصل کیږي هغه اختلاف ته درسیدگي طرزالعمل طرفینو ته توصیه کړي .

پدي ډول مواردو کي د امنیت شوراي د نیمه قضایي مرجع رول لوبوي ددي روش او طریقي څخه هغه وخت استفاده کیدي شي چه د امنیت د شوراي په عقیده نوموړي اختلاف بین المللي سوله او امنیت په خطر کي اچوي بیدون لدي فقط شوراي کولاي شي چه په مسله کي د طرفینو په رضایت دي لاري ته د رجوع توصیه وکړي .

D- د امنیت د شوراي د خوا د ملگرو ملتونو د سازمان په چوکاټ کي د اختلافاتو د حل لپاره دیو مرجع جوړول .

لکه په ۱۹٤۷م کال په اندونیزیا کي د سولي د کمیتي جوړول، د هند او پاکستان تر منځ د کشمیر د مسلي په سر . او یایي موجود ارگان ته راجع کول لکه د فلسطین مسله د امنیت د شوراي لخوا عمومي اسمبلي ته راجع کیدل .

(c) ketabton.com: The Digital Library

بناً د اختلافاتو د حل او فصل کولو لپاره د امنیت د شوراي له طرفه په سولیز دول د امنیت د شوراي توصیه گاني د طرفینو لپاره کومه الزامي جنبه نلري ولي د امنیت د شوراي تصامیم بیا الزامي او اجباري جنبه لري .

ب: د امنیت د شوراي له طرفه د اختلافاتو حل په جبري او قهرجن اقداماتو سره :

په هغه صورت کي چي بین المللي سوله او امنیت د کوم دولت لخوا په دنیا کي د خطر سره مخامخ کیږي نو د امنیت شوراي بیا دهغه دولت په مقابل کي بعضي قهرجن اقدامات تر اقدام لاندي نیسي او د ملگرو ملتونو د سازمان د منشور د اووم فصل مقررات تر اجرا لاندي نیسي ( په هغه حالت چه د کوم دولت لخوا سولي ته تحدید ، سولي ماتول ، او یا کوم یرغلیز عمل سرته ورسیږي د امنیت شوراي د هغه دولت په مقابل کي جبري او قهرجن اقدامات سرته رسوي ) . سولي ته تحدید د امنیت خرابول او یرغلیزو اعمالو په اړوند لاندي دوه نقطو ته اشاره کوو :

۱- دا چي د ملگروملتونو د سازمان په منشور کي سوله نده مشخص شوي که د سولي څخه منظور بین المللي سوله وي نو کوم مواردو څخه یادونه کولي شو چه سولي ته خطر او گواښ او خطر وي . شوراي کولاي شي چه په داخلي اختلافاتو کي چه بین المللي سوله د گواښ سره نه مخامخ کوي وسله وال اقدام وکړي .

Hafizullah Kalim

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددي امر منل به د منشور د مقاصدو خلاف وي ان تردي چه د کوريا په مسله او دهغه څخه مخکي د اندونيزيا په مسله مطرح شوي وه او د امنيت شورا د هيڅ ډول اقدام حق يي نه درلوده ځکه چه دا (١٠٠٪) په داخلي امورو کي دخالت وه بناً د ذکر شوي دليل په اساس په دوارو مرحلو کي په ضمني ډول رد شو .

همدارنکه د کانګو په بحران کي باوجود ددي چه نوموړي هيواد د ملګرو ملتونو د سازمان څخه د مداخلي غوښتنه کړي وه او د ملګرو ملتونو د سازمان په منشور يي عمل کولو بيا هم سرمنشي د دولتونو په داخلي امورو کي د عدم مداخلي د اصل له مخي دستورالعمل صادر کړ چه د سولي د ساتلو قواوو د رقيبو قدرتونو په رقابت کي ګدون ندي کړي فقط د عمومي نظم په ځاي کولو ، د افرادو ساتل او خارجي عواملو قطع کول خصوصاً بلژيک .

٢- هغه مفاهيم چه د منشور په (٣٩) ماده کي ذکر شويدي سولي ته خطر د امنيت خرابول او يرغليز اعمال يي ندي تعريف کړي .

پدي ځاي کي د يادولو وړ ده چه نه تعريف کول ددي مفاهيمو قصداً دي او د سن فرانسيسکو په کنفرانس کي خاصتاً ددي موضوع په رابطه قصداً قضاوت کول د امنيت شوراي ته انتقال شويدي پدي کنفرانس کي هغه وخت چه دي موضوع ته (سولي ته خطر ، د امنيت خرابول او يرغليز اقدامات د تعريف طرفداران بريالي نه شول په

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه کسانو چه فکر يي کولو چه د يرغليزو اعمالو فهرست برابرول امکان نلري بناً دغه موضوعات بي تعريفه باتي شول او د ملګرو ملتونو په منشور کي ځاي نه شول .

لاکن د ۱۹۵۰ م کال ګډوډيو خاصتاً د کوريا جنګ د لوي تجاوز نه مخکي د تعريف ضرورت احساس شو .

عمومي اسمبلي د۱۹۵۰ م په پيل سره دي مهم کار ته متوجه شوله چه د همدي کال څخه وروسته د تجاوز د تعريف په رابطه مباحثات شروع شول ددي مباحثاتو په نتيجه کي په ۱۹۷٤م د دسمبر په ۱٤ نيټه د عمومي اسمبلي لخوا دا پريکړه ۳۳۱٤ اسمبلي لخوا دا پريکړه صادر شوله .

Hafizullah Kalim

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**